مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۱/۳۰

# لویه تلوسه

## پنځه لسمه برخه

### د اوبو بین المللی قوانین

**دوهمه برخه**

**دویم فصل**

### د ارس رود حوضه




**ترکیه هم لکه افغانستان هغه کاونډی دَی چي** مونږ ته اوبه راکوي. خو له ایران څخه کوم مهم رود د هغوی پر لور نه بهیږي. د ترکیې اوبه له دوو لارو ایران ته او د ایران پولو ته واردیږي :

۱ مستقیم: هغه اوبه دي چي مخامخ ترکیې څخه ایران ته ننوزي. دغه اوبه لویدیز آذربایجان له لارې د کوشنیو رودونو په وسیله ایران ته ننوزي. همدغه کوشني رودونه د لویدیز آذربایجان د یوې برخې د آبادَی لامل دي. که د رودونو همدغه سرښاخونه د ترکانو له خوا کنټرول شي د لویدیز آذربایجان د اوبو د اړتیاو یوه برخه له ستونځو سره مخامخ کیږي او د ارومیې بحیرې د ستونځو کچه به د تېر پر تله نوره هم لوړه شي. ستونځه به هغه مهال لا ډېره شي چي د لویدیزو سیمو له دوړو او خاورو سره د ارومیې بحیرې مالګه هم اضافه شي. کوشني ډېر سینډګي ترکیې څخه سرچینه اخلي او بیا د لویدیز آذربایجان د پولو له لارې ایران خاورې ته داخلیږي. مونږ د سارې سو سینډګي لپاره ۱۹۵۷ کي یو قرارداد منعقد کړَی دی. هره ثانیه کي د ایران اوبېرخه ۸/۱ مترمکعب ده. د قطور رود هم د لویدیز آذربایجان په محدوده کي ایران خاورې ته ننوځي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ



جلفا سیمه – د ارس رود

۲ نامستقیم:

- هغه رودونه چي دجلي او فرات او د هغوی د څانګو له لارې اروند رود ته رسیږي.
- د ارس ټول سرښاخونه په ترکیه کي دي او مونږ پدې تړاو هم ترکانو سره کوم تړون نلرو.

څوک تضمینولَی شي چي ترکیه او ارمنستان چي د اوبو سر (پاسني) کي واقع دي د ارس پر سرښاخونو او حتی پخپله پر ارس ډېر نوره بندونه جوړ نکړي او د رود د بهیدو (د اوبو د نورمال بهیر) مخه و نه نیسي؟ نو اوسنَی جوړښت د ارس په اړه بسنه نه کوي او یوې څلور اړخیزې معاهدې ته اړتیا لیدل کیږي.

له نیکه مرغه د شوروي په وخت کي د ارس د رود په تړاو معاهده تنظیم شوې ده. د اوبو ونده، د اوبو ترلاسه کولو (اخېستو) توګه، بند جوړول د بند کنترول او د ارس د مخزني بند په رود او بحیرو کي او د میل او مغان انحرافی بندونو پولیزې کرښې او نورې چارې مشخص شوي دي. د آذربایجان جمهوریت هم چي د شوروي جماهیرو د اتحاد میراثخور دَی هغه قرارداد مني خو د شوروي اتحاد له ړنګیدلو وروسته د ارس په چارو کي د ارمنستان او ترکیې لاسونه هم را اوړده شوي دي

۱ - د ګلستان قرارداد د ۱۸۱۳ د اکتوبر په ۱۲ مه او د ترکمن چای قرارداد د ۱۸۳۸ د فبروی په ۱۰ مه، ارس رود د ایران پوله ټاکلې ده.

۲ – د دوستی د ژمنلیک مبادلي د اجازې قانون، چي د ایران او شوروي جمهوریتونو د دولتونو ترمنځ منعقد شوې او د ۱۳۰۰ لمریز د لیندَی په ۲۳ مه تصویب شوَی دی، موجود دَی.

۳ - د ایران او شوروي جمهوریتونو دولتونو تر منځ د پولې او د ملي مسئلو هوارولو هوکړه لیک د مبادلي د اجازې قانون چي ۱۳۳۳ د کب په ۵ مه تصویب شوَی، هم موجود دی.

۴ – د ایران او شوروي د پولو د انتظاماتو او په ۲۴/۲/۱۳۳۶ (۱۹۵۷ دمی ۱۴) د پېښو او اختلافونو سپینولو(چاڼولو) د ترتیب په تړاو د ایران دولت او د سوسیالیستي شوروي د جمهوریتونو اتحاد دولت ترمنځ په قرارداد د الحاقي پروتوکول قانون او د ارس مخزني بند ترشا بحیره کی او د میل او مغان په انحرافی بند کې، پولې سره اړوند د ملي شورا د مجلس تصویب - ۲۸/۱۲/۱۳۵۲ (۱۹۷۳ - چي یوه مقدمه او ۷ مادی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لري د ۱۳۵۲ د زمرى (مرداد) په ۱۶ مه نيټه په مسکو کې د دوو دولتونو د مختارو استازو ترمنځ لاسليک شو.
۵ – د ايران او شوروى ترمنځ نورګړ ( بيلا بيل) پروتوکولونه لدې ډلې:
۱-۵ - ۱۳۳۵ لمريز د تلې(ميزان)۲۳ مه نيټه( ۱۹۵۶ ميلادي د اکتوبر ۱۵) د ايران، ترکي او شوروي جماهيرو د پولو پوځاى کيدو ناحيې د شرحه کولو پروتوکول،
۲-۵- د ارس مخزني بند او د ميل او مغان انحرافى بند تر شا په بحيره کې – د۱۹۷۰ ميلادى د مى ۷ مه (۱۳۴۹ لمريز د غوايى - ثور) – ايران او شوروي اتحاد ترمنځ د نوې پولې ټاکلو او تثبيتولو په تړاو؛ د ايران او شوروي اتحاد تر منځ د پوليزو او مالي مسئلو د هوارولو له هوکړه ليک سره د الحاقيدو پروتوکول.
۳-۵- د پولى د نښو( علامو) درولو پروتوکولونه چې د ارس بند او د ميل او مغان بند په سيمه کې نصب شوې دي. د ۱۹۷۰ ميلادى کال د ۱۳۴۹ د ليندى (قوس) ۱۴ مه.
د ملګرو ملتونو سازمان دفتر هم، د کورا سيند پرمخ د منځپولي دګدو همکاريو رامنځ ته کيدو لپاره چې د ارس رود د ښي لوري يوه ځانګه (ښاخ) ده ، د ۵۷۳۸۸ شميرى لاندى د ايران، ترکيې، ارمنستان، نخجوان او آذربايجان ترمنځ يوه مطالعاتي پروژه عملي کړې ده.
پاسنى هيوادونه به دحقوقي او سازماني چوکاټ په يوه ګډه همکارى کې د ارس – کورا حوضي د طبيعي زيرمو مديريت په ګډه توګه په غاړه واخلي. داسي ښکارې چې د ارس په تړاو اوسني قراردادونه بسنه نه کوي. ارس په اړه په يوې فعاله ډيپلماسى کې بايده دي:

- د ايران د آذربايجان ، ارمنستان او ترکيې او حتى د نخجوان استازي حضور ولري.
- لازمه ده چې د وربځو بداينې مسئله او د کار اجراکولو محدوده او په ګاونډيو سيمو د هغه اغيزمنتيا او په پام وړ حوضه کې د وربښت په راکمولو د هغوى اغيز وڅيړل شي او لازمه ده چې هغه لپاره يو تړون( قراداد) ولرو. که ترکيه کومه ورځ وغواړي په پراخه توګه د وربځو غوړولو (بدايه کولو) لپاره ګام پورته کړي او د دغه اقدام له امله د ايران په خاوره کې په هغو حوضو کې چې زمونږ د ملي ګټې ستنې پر هغوى ولاړې دي(لکه ارس) د وربښت په اوربدو کې کمَى رامنځ ته شي کوم قرارداد د دغه کار مخه نيولَى شي؟
- د ارس رود اوبو يو مهمه پوښتنه (مسئله) د هغه ککړتيا ده. ارمنستان د ارس رود په غاړه له ډېرو اوړدو کلونو راهيسي د پرتو مسو په راوېستلو لاس پورې کړى دَى. کانيز فعاليتونه په ارس سيمه کې ستندرد نه دي. ارس پر غاړه د مسو استخراجول د رود د ککړتيا لامل شوَى دى. پردې سربيره د مسو د پاتي شونو کوټه کولو(خره يا انبارولو) پخپله د ځو لسيزو په اوږدو کې نامعياري بندونه ( بَنْدکي) رامنځ ته کړي دي. که چيرې دغه بندونه ونړيږي (مات شي) لويې ستونځې به رامنځ ته شي. د ارس کنوانسيونه بايد د ژوند چاپيريال ربړې هم په پام کې ونيسي.
-

وړانديز کوو:
د ملګرو ملتونو تر ځار لاندې دې د ترکيې، ارمنستان، آذربايجان او ايران د ځلورو هېوادونو په ګډون د ارس حوضي هيوادونو د اتحاديې په نوم يوه اتحاديه رامنځ ته شي( نخجوان هم کولاى شي د ناظر په توګه يا په بل هر نوم چې آذربايجان يې ومني حضور ولري). البته نخجوان همدا اوس هم په ځينو کميسيونونو کې حضور لري. دغه اتحاديه بايد هغو قراردادونو او کنوانسيونونو ته ورسيږي چې په ملګرو ملتونو سازمان کې راجستر شي.

په يوه پراخ ليدلوري کې ښايي وتوانيږو د ارس، فرات او دجلي حوضې هېوادونو يو ځايي اتحاديه ولرو. که څه هم د دوو حوضو طبيعي، هيډرولوژيکي او د هوا مسئلې يوبل سره بيخي توپير لري، خو ګومان دا دَى چې کولاى شو داسي اتحاديه جوړه کړو چې د دواړو حوضو هيوادونه پکې راټول شوي وي. د ترکيې هيواد به چې د خاورې يوه برخه يې په عملى توګه په دواړو حوضو کې واقع شوې ده په يوه کليدي هيواد بدل شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

خو د ارمنستان او آذربايجان حضور کولای شي د دوو عربي هيوادونو سوربې، عراق او د دجلی فرات حوضي د عربی ذی مدخل هيوادونو په وړاندي انډولوونکي پرتلنه (تناسب)رامنځ ته کړي.

ملګرو ملتونو سازمان
\
د ارس حوضي هيوادونو اتحاد
---------\-----------\-----------------\---------------------\-----------\-
نخجوان ايران آذربايجان ارمنستان ترکيه

لکه څنګه چي مخکي يې يادونه وشوه دغه کتاب يوازي هغه اندونه او نظريې وړاندي کوي او يا هغه نظريې چي موجودې دي يو بل ترڅنګ يې ږدي. جوړښتونو ته رسيدنه په بشپړ توګه يوه حقوقي، فني او سياسي مسئله دی چي د ايران ډيپلماسي يې بايد وټاکي. د کتاب اصلي موخه دا دَی چي اوبو په برخه کي د ايران ډيپلماسي بايد له هغه څه لا ډيره فعاله او لا زياته سيستماتيکه وي کومه چي موجوده ده. مونږ په بهرنيو چارو وزارت کي او په سفارتونو کي ماهرو او ځواکمنو ډيپلماتانو ته اړتيا لرو. انرژی وزارت کي هم د اوبو ماهرو ډيپلماتو ته اړتيا لرو.

لنډيز:
د ارس رود په تړاو د ګلستان او ترکمنچای له لوظنامي(تړون) تر دې مهاله بيلابيل تړونليکونه (مقاوله ليکونه) ، تفاهم ليکونه او قوانين د ارس رود په اړه موجود دي.
خو په بين المللي تولنو کي يو راجستر شوي قانوني جوړښت چي حوضه کي شامل وي او د ارس حوضي د هراړخيز مديريت طرحه تنظيم او تصويب کړي او په اجراآتو نظارت ولري شتون نلري.
مونږ د خپلو ګټو ساتني او د ابو، انرژی، د ژوند چاپيريال، د اوبو کيفيت، روغتيا او . . لپاره بايد د دی جوړښت په رامنځ ته کولو کي مخکښ واوسو څو د سيمي سياسي، پراختيايي موخي او په تېره بيا سوله او امنيت وساتو.

نور بيا

**د هيواد په شمال ختيځ کي د اوبو وضعيت:**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ